هفته واره رساله

# د پلار عظمت او شان

(پښتو)



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د پلار عظمت او شان (1)

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په کتاب کښې په ما باندې دُرُودِ پاک وليکلو نو تر څو پورې چې زما نوم په هغې کښې وي فرښتے به د هغهٔ د پاره اِستغفار (د بخښنې دُعا) کوي-(2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علىٰ مُحَمَّد

## د مور د محبت سره سره د پلار د محبت اِظهار هم پکار دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د مور پلار خِدمت ډېر لوئي سعادت دے،

---

(1)... دا بيان مبلغِ دعوتِ اِسلامي او رُكنِ شوریٰ، حاجي ابو مَدَني، عبد الحبيب عطاري مدظله العالي په وړومبي صفر المُظفر كال ۱۴۴۲ھ بمطابق 18 ستمبر كال 2020ء په فيضانِ اعلیٰ حضرت مسجد، منظور كالونى كراچى كښې د خپل والدِ مَرحوم د برسى په موقع د هغوئي د ايصالِ ثواب د پاره په تابيا شوې د عاشقانِ رَسُول د سُنَّتو ډكه اِجتماع كښې وفرمائيلو- كله چې د هغوئي دا بيان په مَدَني چينل باندې آن ائير شو نو اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هغوئي ته دُعاگانې وكړې او په دې موادو باندې يې په ليكلي شكل كښې هم د رسالې راتلو د خواهش اِظهار وكړو- (شعبه ملفوظاتِ اميرِ اَهلِ سُنَّت)

(2)... معجمِ اوسط، باب الالف، من اسمه احمد، ۱/۴۹۷، حديث:۱۸۳۵-

بعضې خلق د مور پلار د خدمت او برکت نه ډېر لرې وسي ، هغوئي پۀ دې خبره باندې نۀ پوهيږي چې دا څومره لوئي هستياني دي- د مور پۀ باره کښې خو مونږ ډېر اورو چې د مور دُعا د جنَّت هوا- د مور د ښپو د لاندې جنَّت دے- [1] د مور ښپو ته د جنَّت چوکاټ فرمائيلے شوے دے- [2] مور، مور وي، پۀ دې خبره کښې هيڅ شک نشته چې د مور موازنه د چا سره هم نشي کيدے، د مور پۀ دُنيا کښې هيڅ نعم البدل نشته خو د پلار د خدمت او اَدب او احترام پۀ باره کښې هُغه خيز پۀ نظر نۀ راځي او نۀ د پلار سره د دومره محبت اظهار کيږي حالانکې زمونږ پۀ ژوند کښې د پلار يو ډېر خاص اهميت او اهم کردار دے-

## د پلار خِدمت ځوي مالا مال کړو

د يو کَس څلور ځامن وو، هغۀ بيمار وو، نو د هغۀ يو ځوي خپلو وروڼو ته يوه عجيبه فارمولا پيش کړه چې تاسو درې واړه پۀ شريکه د والدِ صاحب خدمت کوئ، چې کله تاسو دومره لوئي نيکئ کَتي نو بيا پۀ ميراث کښې حصه مۀ اخلئ يا ما له دا کار راکړئ چې زۀ د والد صاحب خدمت وکړم، ټول خِدمتونه به يې کوم او پۀ ميراث کښې به هيڅ حصه اخلم- ډېره عجيبه خبره وه پيسې ځوک پريږدي خو هُغه ورور ته معلومه وه چې د پلار د خِدمت اَجر څۀ دے؟ نو دريو واړو وروڼو ووئيل: د دې نه به نوره ښه خبره څۀ وي هم تۀ د والد خدمت کوه او پۀ ميراث کښې څۀ مۀ اخله- بهر حال دا فارمولا وتاکلے شوه او هُغه ورور د پلار خدمت شروع کړو، تر دې پورې چې پلار يې وفات شو- هُغه خدمت کوونکي ځوي يې پۀ ميراث کښې هيڅ حصه وانخسته ځکه چې وعده يې

---

1... مسند الشهاب، ۱/۱۰۲، حديث:۱۱۹-

2... در مختار، کتاب الحظر والاباحة، فصل فی النظر والمس، ۹/۶۰۶-

کړې وه چې زۀ به د پلار خدمت کووم نو پۀ میراث کښې به حصه نۀ اخلم- بیا ځۀ وشو چې یوه شپه هغۀ سملاستو، هغۀ پۀ خوب کښې اواز واوریدو، چا وئیل چې فلانکي ځائے ته لاړ شۀ او هلته 100 دِیناره یعنې د سرو زرو 100 سکې موجودې دي هغه راواخله- دې ګس پۀ خوب کښې د خبرې کوونکي نه پوښتنه وکړه چې آیا پۀ هُغه 100 دینارونو کښې برکت شته؟ هغۀ ووئیل: برکت پکښې نشته- سحر چې راپاڅیدو نو هُغه ګس خپلې ښځې ته ووئیل چې ما ته پۀ خوب کښې یو ځائے راښودلے شوے دے چې هلته 100 دیناره دي خو ما د اخستو نه اِنکار وکړو ځکه چې پۀ هغې کښې برکت نشته- ښځې ورته ووئیل چې عجیبه انسان یې، ورومبے دې میراث پریښودو، پۀ هغې کښې دې هم څۀ حصه وانخسته او اوس درته 100 دینارونه میلاؤیدل، تۀ غریب هم یې نو اخستي به دې وو- هغۀ ووئیل: زما هُغه مال نۀ دے پکار پۀ کوم کښې چې برکت نۀ وي- پۀ دویمه شپه سملاستو بیا هغۀ پۀ خوب کښې هُغه ځائے ولیدو چې پۀ فلانکي ځائے کښې د سرو زرو 10 اشرفۍ دي هغه واخله- هغۀ ووئیل: آیا پۀ هغې کښې برکت شته؟ اوئې وئیل: پۀ دې کښې برکت نشته- سحر راپاڅیدو، هُغه ګس ښځې ته ووئیل نو ښځې یې ووئیل: عجیبه انسان یې، د 100 دینارو نه 10 له راغلې، 10 خو به دې اخستې وے- اوئې وئیل: چې برکت پکښې نۀ وي نو زما نۀ دي پکار- پۀ دریمه شپه باندې چې سملاستو نو بیا یې پۀ خوب کښې هُغه ځائے ولیدو چې هلته یو دِینار دے هغه واخله- هغۀ پوښتنه وکړه: آیا پۀ دې کښې برکت شته ؟ پۀ خوب کښې ووئیلے شو چې آؤ! پۀ دې کښې برکت شته - نو دا ګس سحر پاڅیدو او هُغه ځائے ته لاړو او د هلته نه یې یو دِینار راواخستو او راغلو- دې نه پس هغۀ پۀ هُغه دِینار باندې د کور والؤ د پاره دوه مهیان [یعنې کبان] واخستل

چې که نور څۀ نۀ وي نو پۀ کور والؤ باندې خو به ښه خوراک وکړم- چې کله کور ته راغلو او د دوارو مهيانو خِيټې يـې وشلولې نو د هُغه دوارو مهيانو پۀ خِيټو کښې يوه يوه ملغلره راوتله، دا ډيرې عجيبه او نا اشنا ملغلرې وې، هغۀ هُغه ملغلرې د ځان سره کيښودلې-

پۀ هُغه ورځ بادشاه حکم وکړو چې زما د دې رنګ او دې ډيزائن ملغلره پکار ده، د بادشاه نمائندګان د ټول ښار زرګرانو له لاړل خو پۀ يوځائے کښې يـې هم داسې ملغلره پيدا نکړه- اخر پته ولګيده چې پۀ فلانکۍ محله کښې يو ګس دے د چا د مهي د خِيټې نه چې داسې ملغلره راوتې ده چې داهغې پشان ملغلره چانۀ ده ليدلې- خلق پۀ لټولو لټولو د هغۀ کور ته راغلل- چې ملغلره يـې وليدله نو اوئې وئيل: د بادشاه هم داسې ملغلره پکار ده، چې کله بادشاه ته هُغه ملغلره وښودلے شوه نو هغۀ هم ووئيل چې آؤ هم دا ملغلره ده- بيا د هُغه ملغلرې د قيمت پوښتنه وکړے شوه، پخوا به پۀ خرو او اَسونو باندې سامان راوړے کيدلو نو هُغه ګس ووئيل: 30 خچره (يعنې 30 Mules) سره زر- بادشاه 30 خچره سره زر پۀ بوجو کښې راوړل او د هغۀ نه يـې هُغه ملغلره واخستله- د يو دينار پۀ برکت څومره مال شو، هغه هم لا اوس يوه ملغلره خرڅه شوې ده- بادشاه دا ملغلره واخسته او د هغې چې کوم تجربه لرونکے ګس وو هغۀ له يـې ورکړه، هغۀ بادشاه ته ووئيل: پۀ يوه ملغلره باندې ښکلا نۀ راځي، د دې جوړه پکار ده، چې د دې پۀ شان بله ملغلره ميلاؤ شي نو بيا به د دې اصل قدر زيات شي- بادشاه ووئيل: يوه بله ملغلره ولټوئ اګر که پۀ دوچنده قيمت ولې نۀ وي- بيا ملغلره ولټولے شوه خو چرته هم ميلاؤ نۀ شوه، واپس خلق بيرته د هُغه کس خوا له لاړل، د هغۀ نه يـې پوښتنه وکړه: آيا ستا سره د دې پۀ شان بله ملغلره شته؟ هغۀ ووئيل: د دې پۀ شان خو شته

خو تا ته به پۀ دوه چنده قيمت باندې ميلاوېږي، نو هغۀ د هٔغه کس نه پۀ 60 خچره سرو زرو ملغلره واخسته- [1] د دې واقعې نه مونږ ته د پلار د خدمت کولو سره سره دا سبق هم ميلاؤ شو چې بے شکه لږ مال پۀ کوم کښې چې برکت وي د هٔغه ډير مال نه بهتر دے کوم چې د حرامو وي او د برکت نه خالي وي- بهر حال هٔغه څوي د پلار خدمت وکړو نو الله پاک هغۀ د غيبي خزانو نه مالا مال کړو-

## د مور د خدمت صِله

دغه شان يوه مشهوره قرآني واقعه پۀ سورۀ بقره کښې هم موجوده ده، بقره پۀ عربۍ کښې غوا ته وئيلے کيږي، پۀ دې سورت کښې د هٔغې غوا واقعه ده کومه چې د دُنيا د ټولو نه ګرانه غوا وه، د کومې قيمت چې د هٔغې غوا څرمنه د سرو زرو نه ډکه کړے شوه او د هٔغه زماني خلقوهغه ځلمي له ورکړه کوم چې د خپلې مور خدمت کړے وو، د مور تابعدارې يـې کړې وه نو الله پاک هغۀ ته داسې غوا عطا کړه چې د هغې پۀ شان غوا پۀ ټوله دُنيا کښې چرته نۀ وه- [2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې واقعاتو نه چې کومې خبرې زده کيدونکې ده پۀ هغې کښې د مور پلار او د بچو دواړو د پاره سبق دے- مور پلار وائي چې د بچو د پاره ورسته ډير څۀ پرېښودل پکار دي، ورور! د بچو د پاره خو يـې ګټم، د بچو د پاره کور جوړول دي، کارخانه جوړول دي، دا سوچ نۀ

---

[1]... حلية الاولياء، طاؤس بن كيسان، ۸/۴، حديث: ۴۵۷۳، رقم: ۲۴۹ بتصرفٍ قليلٍ-

[2]... تفسير صاوى، پ ۱، البقرة، تحت الآية:۷۱، ۷۵/۱ ـ د دې قرآني واقعې او د دې نه د حاصليدونکو ډيرو عبرتناکو او د نصيحت نه د ډکو خبرو نه د ځان خبرولو د پاره د مکتبة المدينه کتاب "عجائبُ القرآن مَع غرائبُ القرآن" د صفحه 37 نه 41 پورې ولولئ-
(شعبہ ملفوظاتِ امير اہلِ سنّت)

کوي چې د بچو د پاره حلال ګټي او که حرام؟ د بچو تربيت څنګه کوي؟ ياد ساتئ چې کوم کَس د بچو د پاره مال پريږدي او لا ړ شي او د بچو تربيت ونکړي نو که هغوئي پۀ هغه مال باندې حرام کار کوي نو عذاب به يې هغۀ ته هم ميلاؤيږي- د حضرت سَيِّدُنا عمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ باره کښې راځي چې کله هغوئي د دُنيا نه رُخصتيدل نو د هغوئي سره ډير لږ سامان وو- چا ورته ووئيل: تاسو د خپلو بچو د پاره هيڅ پرې نۀ ښودل- حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ښکلے جواب ورکړو چې که زما بچي د الله پاک نافرانه وي نو د هغوئي د پاره هيڅ نۀ پريښودل صحيح دي چې هغوئي به دا پۀ غلطو کارونو باندې لګوي او که د الله پاک تابعدار دي نو الله پاک به د خپلو غيبي خزانو نه هغوئي ته ورعطا کړي، هغوئي به پخپله غنيان کړي او د هغوئي پۀ رزق کښې به برکت واچوي- [1]

## که حلال لږ هم وي نو پۀ هغې کښې به ډير برکت وي

دلته دوه خبرې اهمې دي: وړومبۍ خبره نيک اولاد کوم چې د مور پلار پريښودے شوے مال پۀ صحيح طريقه اِستعمال کړي او دويمه خبره حلال مال- که حلال مال لږ هم وي نو الله پاک به پۀ هغه لږ مال کښې د اولاد د پاره برکت واچوي- پۀ دُنيا کښې داسې ډير مثالونه موجود دي چې ارب پتيان خلق د خپلو بچو د پاره ډير لوئي کاروبار پريږدي او د دُنيا نه لا ړ شي، د هغوئي بچي پرې غلط کارونه کوي، پۀ لږه موده کښې خپل ټول کاروبار تباه کړي، خو غريب انسان بعضې وخت د دُنيا نه لا ړ شي، د هغوئي اولاد نيکان وي، الله پاک هغوئي ته داسې ورعطا کړي او د هغوئي پۀ مال کښې دومره برکت واچوي چې هغوئي د خپل

---

[1]... احياء العلوم، كتاب ذم البخل و ذم حب المال، بيان ذم المال وكراهة حبه، ٢٨٨/٣ ـ

پلار نه هم په کاروبار کښې ورانديږ لاړ شي- د الله پاک نه حلال رزق غوښتل پکار دي چې مولا! چې څۀ هم راکوې نو حلال راکړې، د برکت والا راکړې، د خير او سکون والا راکړې- که حلال لږ هم وي نو هغه ډير د برکت والا وي- ډير کروړ پتيان خلق په داسې بيمارو کښې اخته شي چې ټوله شپه اوده کيدے نشي خو يوه ګاډۍ لګوونکے غريب انسان د شپې په ارام اوده کيږي، پينځه وخته نمونځ کوونکے وي او د هغۀ بچي تابعدار وي- معلومه شوه چې اصلي څيز د زړۀ سکون دے، نوټونه ضروري نۀ دي، د زړۀ سکون ضروري دے-

## پلار سايه داره وَنه ده

ياد ساتئ چې پلار هُغه سايه داره وَنه ده کومه چې ګرمي يخپله برداشت کوي او په بچو باندې سورے کوي، شپه او ورځ کار کوي چې بچي مې په خير سره خوراک څښاک وکړي، مونږ ته پته نۀ لګي خو هغۀ خپل خواهشات قربانوي او په مونږه خوراک او څښاک کوي او زمونږه فرمائشونه پوره کوي، چې کله بچے بازار ته لاړ شي او فرمائش وکړي چې بابا دا راله واخله او بابا وګوري چې په جيب کښې يې دومره پيسې نشته خو بچے ډير ضد کوي پلار خپلې خرچې يو طرف ته کړي او د بچي خواهش پوره کړي، دا زمونږه والد صاحب زمونږ سره وکړل او ستاسو والد صاحب به هم ستاسو سره کړي وي چې يخپله به يې تکليفونه برداشت کړي وي خو بچو له به يې اسانۍ ورکړې وي- ياد ساتئ چې د وَنې د پاڼو لاندې سورے وي خو وَنه د بره نه ډيره ګرمه وي ځکه چې هغه ټوله ګرمي يخپله برداشت کوي- الله پاک مونږ ته پلار ډير لوئي نعمت راعطا کړے دے کوم چې مو د ګوتې نه نيسي او ګرځيدل راته زده کوي، پلار هميشه غواړي چې زما ځوي ترقي وکړي، په دُنيا کښې عام طور خلق د چا ترقي نۀ

خوښوي، خلق د حسد ښکار کيږي خو پلار هٔغه هستي ده چې کله يې زوي ترقي کوي نو هغهٔ خوشحاليږي، ځکه چې د پلار او د اولاد چې کومه رشته ده هغه بغير د لالچ نه ده، هغهٔ به پخپله پهٔ غمونو کښې وي خو خپل بچي به غمژن کيدو ته نهٔ پريږدي- که بچے د مايوسئ ښکار شي يا پرې بله څهٔ سخته راشي نو هغهٔ حوصله ورکوي، هغهٔ ته به وائي: مهٔ ويريږه، زهٔ يم کنه، حالانکې هغهٔ پخپله هم ويريږي، هغهٔ پخپله هم پهٔ ټينشن کښې وي خو پهٔ کور کښې چا ته نهٔ وائي چې هغهٔ پهٔ څومره پريشانو کښې راګير دے- هغهٔ ته پته ده که بچو ته وايم يا د بچو مور ته وايم نو هغوئي ټول به هم پهٔ ټينشن کښې اخته شي، هغوئي پهٔ ټينشن کښې د اخته کولو څهٔ ضرورت دے؟ زهٔ يم کنه! برداشت به يې کړم، بيا کله قرضې اخلي نو کله سخت ژوند تيروي خو خپل بچي هيڅ قِسمه سختې ته نهٔ پريږدي-

## د مور پلار خدمت کوونکي خوش قِسمته وي

يو وخت راځي چې بچے ځوان او پلار بوډا شي، بيا د بچي نمبر وي چې هغهٔ د پلار خدمت وکړي- ياد ساتئ چې که چرې مونږه ټول عمر هم د مور پلار خدمت وکړو نو بيا هم د هغوئي د احسان بدله نشو ورکولے ځکه چې هغوئي پهٔ هٔغه وخت کښې زمونږه خدمت کړے دے کله چې مونږه ګرځيدے نشو، د خوراک څښاک چل نهٔ راتللو، زمونږه جامې نهٔ وې او کمزوري وو، هغوئي همت وکړو او زمونږه پالنه يې وکړه او پهٔ خپلو ښپو يې ودرولو- اوس چې د هغوئي د خدمت نمبر دے نو مونږ له سعادت ګڼل او د هغوئي خدمت کول پکار دي- خوش قِسمته دے هٔغه اولاد کوم ته چې د مور پلار د خدمت کولو موقع ميلاؤيږي، ګڼې ډير مور پلار خو داسې وي چې هډو د خدمت موقع نهٔ ورکوي، زمونږه پهٔ خدمت کولو کولو د دُنيا نه رخصت شي- انسان وائي چې مونږ ته خو هډو موقع ميلاؤ نهٔ شوه، تر اخري وخته پورې راله پلار ګټله، پلار پهٔ مونږ باندې

مهرباني کوله، زمونږه مور به پۀ مونږ باندې مهرباني کوله، مونږ له خو يـې د خدمت کولو هډو موقع رانکړه-

(پۀ دې موقع باندې د دعوتِ اِسلامي مبلغ او د شوریٰ رکن، حاجي ابو مدني، عبد الحبيب عطاري مد ظله العالي د خپلې مور بي بي ذِکر وکړو او اوئې فرمائيل:) " زما مور بي بي چې کله وفات شوه، زۀ هُغه وخت پۀ پاکستان کښې نۀ ووم بلکې پۀ بغداد شريف کښې ووم- ما ته کور والؤ وئيلي وو چې پۀ کومه شپه مور بي بي وفات شوه پۀ هُغه شپه ډوډۍ هغوئي پخپله پخه کړې وه، هُغه وخت هم هغې د خپل خدمت کولو موقع رانکړه- هغې به د الله پاک پۀ بارګاه کښې دُعا کوله چې اے الله پاکه! ما د ځان نه علاوه د چا هم مۀ محتاجه کوې- الله پاک د هغې دُعا قبوله کړه-" بيا د هغۀ نه ډير بد نصيبه څوک دے چا ته چې د پلار يا د مور د خدمت موقع ميلاؤ شي او هغۀ دا ووائي چې زۀ د دې بوډا يا د بوډۍ پۀ وجه پريشانه شوے يم- دومره پيسې به پۀ مور پلار لګووم؟ ډير افسوس دے پۀ داسې اولاد باندې کوم چې د خپل مور پلار خدمت بوج ګڼي- د خُدائے د پاره! دا زمونږه د پيسو نصيب دے چې هغه پۀ مور پلار باندې ولګي ځکه چې ټول عمر خو هم هغوئي ولګولې، څۀ چې يـې راکړي هم هغوئي راکړي - مونږ چې څۀ هم يو او مونږ ته چې څۀ عزت هم ميلاؤ شوے، شهرت ميلاؤ شوے، دولت ميلاؤ شوے دا ټول د مور پلار پۀ وجه دے او پۀ دې کښې د پلار ډير لوئې کردار دے او زمونږه حالت داسې وي چې مونږه بعضې وخت د پلار شکريه(مننه) هم نۀ کوو- زمونږ مور چې پۀ مونږ باندې څه خوري، زمونږ مور پۀ چې مونږ باندې څه څښي، زمونږ مور چې مونږه سينې ته رانزدې کوي، زمونږه مور مونږ له څۀ څيز راکوي نو مور له پيسې څوک ورکوي؟ څوک يـې ګټي او ورله يـې راوړي؟ پلار د ټول کور ستَن وي خو څوک هم د هغۀ مننه نۀ کوي او د هغۀ پۀ دې تکليف باندې نۀ پوهيږي- پلار د ټول

کور محسن او د کور د پاره سایه داره ونه وي څوک چې محنت کوي، مونږ له سورے راکوي، مونږ ته عطا کوي، زمونږ سره چې څۀ هم دي هغه زمونږ د پلار دي، دا زۀ نۀ وایم زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي- د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک دور د درد نه ډکه یوه واقعه واورئ:

## د دریدلي پلار قیصه د هغۀ په خُله

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې یو ځوي د خپل پلار شکایت وکړو چې حضور! زما پلار زما مال په زوره اخستل غواړي- نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: خپل پلار راوله- پلار یـې راوستو، نو نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ستا ځوي وائي چې تۀ د دۀ مال اخستل غواړې؟ هغۀ عرض وکړو: حضور: د دۀ نه دا پوښتنه هم وکړئ چې مال تري واخلم نو څۀ پرې کووم؟ د دۀ نه چې پیسې وغواړم نو په هغې باندې څۀ کووم؟ د خپلو عزیزانو او خپلوانو میلمستیا پرې کووم او د خپل بال بچ په ضرورتونو یـې لګووم- لا خبرې جاري وې چې په دې کښې جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام حاضر شو او اوئې وئیل: حضور! دې پلار په زړۀ زړۀ کښې څۀ شعرونه جوړ کړي دي، لا هٰغه شعرونه هغۀ نۀ دي وئیلي، حضور! تاسو ورته ووایئ چې هٰغه شعرونه ووائي- نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غیبي خبر ورکړو او ارشاد یـې وفرمائیلو چې تا څۀ شعرونه جوړ کړي دي کوم چې اوسه پورې ستا په خُله نۀ دي راغلي، په دې باندې هغۀ ووئیل: الله پاک همیشه ستاسو د معجزو په ذریعه زمونږ د زړۀ یقین او بصیرت زیاتوي- بیا هٰغه پلار نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هٰغه شعرونه ووئیل د کومو پښتو ترجمه چې دا ده: " ما تا له خوراک درکړو، چې د کله نه تۀ پیدا شوے یـې، چې تۀ وړوکے وې زما په ګټه باندې بیا بیا موړ کړے شوې، کله چې به یوه بیماري غم جوړیده او په تا باندې به راتلله نو زۀ به ستا د بیمارۍ په

وجه تږوله شپه ويخ ووم، زما زړۀ به ستا د مرګ نه ويريدو حالانکې ما ته ښه پته وه چې مرګ يقيني دے او پۀ ټولو باندې مسلط کيږي، زما سترګې به داسې بهيدلې لکه څُغه مرض کوم چې د شپې تا ته شوے وو نۀ چې ما ته، داسې به وو لکه چې ما ته شوے وي يعنې بيماريدلې به تۀ او تکليف به ما ته وو، زۀ به ناقلاره کيدم، ما تۀ داسې وياللې چې کله تۀ لوئې شوې او تر دې حده پورې راورسيدلې چې زما طمع پيدا شوه چې تۀ به اوس زما پۀ کار راځې نو تا زما بدله پۀ سختۍ او بد زبانۍ سره راکړه، اے کاش چې تا د پلار د حق خيال اونه ساتلو نو هم داسې سلوک به دې راسره کړے وے لکه څنګه چې يو ګاؤنډې د بل ګاؤنډي سره کوي، دومره خو به دې زما خيال ساتلے وے.'' څُغه درديدلې پلار چې کله نبي رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا شعرونه ووئيل نو د رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو نه اوښکې رواني شوې، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څُغه ځلمے د ګريوان نه ونيولو او ارشاد يې وفرمائيلو: اِذْهَبْ اَنْتَ وَمَالُكَ لِاَبِيْكَ ځه تۀ او ستا مال ټول ستا د پلار دے. [1]

## مور پلار د ځان د پاره نۀ بلکې د خپلو بچو د پاره ژوند کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې زما آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل چې ''تۀ او ستا هر څۀ ستا د پلار دي.'' نن چې پيسې ورکړې نو ځوې وائي: دا زما دي او دا ستاسو دي، څومره درکړم؟ بيا بيا ولې غواړې؟ پلار خو د خوراک پۀ وخت چرې هم دا نۀ وو وئيلې بلکې پخپله به يې نۀ خوړله مونږ له به يې راکوله، خپل خواهشات به يې ختمول او مونږ به يې پاللو، بابا پخپله نوې جامې ډيرې کمې اغوستې وې خو مونږ له به يې نوې نوې جامې او نوي نوي پيزارونه راوړل، څۀ چې مونږه غوښتل زمونږ پلار به راوړل، چرته مونږ دا

1… معجم صغير، باب من اسمه محمد، ۲/۶۳، حديث ۹۴۴.

سوچ کړے دے چې زمونږه پلار د ځان د پاره چرته څۀ اخستي دي؟ چرې يې دا وئيلي دي چې نن مې دا پيزار ډير خوښ شوے دے نو دا مې د ځان د پاره راوړے دے، نه نه، بلکې د پلار پۀ خُله باندې هميشه دا وي چې د خپل ځوي د پاره مې راوړے دے، د خپلې لور د پاره مې راوړے دے، د خپلې ښځې د پاره مې راوړے دے- مور پلار کمالي هستيانې دي، دوئي د ځان د پاره ژوند نۀ کوي د خپلو بچو د پاره ژوند کوي او چې کله بچے لوئي شي او د مور پلار سره بے ادبي او بد سلوکي کوي، زړۀ ازاروونکې جملې وائي نو پۀ دې باندې به د مور پلار زړونه څومره درديږي! پۀ کتابونو کښې د پلار ادب تر دې پورې ليکلے شوے دے چې " ځوي دې د پلار پۀ مخکښې داسې وي لکه څنګه چې غلام د آقا پۀ مخکښې وي- [1] پلار چې کله ځوي ته څۀ حکم وکړي نو ځوي دې پرې لَبَّيک وائي، دا د پلار پۀ ځوي باندې حق او ادب دے- نن حالات دې ته رارسيدلي دي چې ځوي پلار او پلار غلام جوړ شوے دے، اوس چې مور پلار وائي چې ځويه لږې پيسې مې پکار دي، ځوي ترينه اِنکار کوي چې زما سره پيسې نشته يا پلار وائي چې ځويه دلته راشۀ لږ کار مې درسره دے نو ځوي جواب ورکوي چې زما سره وخت نشته-

## پلار پۀ شاړه کښې پريښودونکے بدنصيبه ځوي

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د ټولو ګناهونو سزا که الله پاک وغواړي نو د قيامت د پاره به يې پريږدي خو د مور پلار د نافرمانۍ سزا پۀ ژوندانۀ پۀ دُنيا کښې هم ورکوي- [2] د دې ردِ عمل دا وي چې د هغۀ خپل اولاد د هغۀ نافرماني کوي- مشهوره واقعه ده چې يو زلمي واده وکړو، د هغۀ پلار بوډا وو، ټوخيدو به،

---

1... تفسير در منثور، پ ۱۵، بنیَ اسرآئيل، تحت الآية: ۲۴، ۲۵۹/۵-

2... مستدرک، کتاب البر والصلة، باب کل الذنوب يوخر الله...الخ، ۲۱۷/۵، حديث:۷۳۴۵-

د هغهٔ ښځې ووئيل چې دا بوډا د کور نه اوباسهٔ- ځوي د ښځې غلام جوړ شوے وو، هغهٔ خپل پلار د ځان سره کړو او چرته په شاړه کښې يې پريښودو- پلار يې ووئيل ځويه! پهٔ يخنۍ کښې ما چرته پريږدې، ما له يو کمبل خو راکړه- د هغهٔ سره د هغهٔ وړوکے ځوي هم وو، هغهٔ خپل نيکه ته ووئيل: زهٔ ستا د پاره کمبل راوړم- چې کله هُغه ماشوم کمبل راوړه نو هُغه نافرمانه ځوي خپل ځوي ته ووئيل: تا نيم کمبل ولې راوړے دے؟ هغهٔ ووئيل: نيم مې د دهٔ د پاره راوړے دے او چې کله تاسو بوډا شئ نو تاسو خو به هم زهٔ چرته پريږدم نو هُغه وخت به نيم تاسو له درکړم- بيا د هُغه نافرمانه ځوي پهٔ سترګو کښې اوښکې راغلې، هغهٔ پهٔ دې خبره باندې پوهه شو چې نن زهٔ څهٔ د خپل پلار سره کووم سبا به هم دا زما اولاد زما سره هم کوي-

## د پلار شفقت چرې هم مهٔ هيروئ

مخکښې به مونږه اوريدل چې Old House پهٔ يورپ او امريکه کښې دي، اوس خو پهٔ پاکستان کښې هم جوړيږي او دلته هم خلق خپل پلار Old House ته بوځي- اے نادانه! دا د جنَّت دروازه وه څوک چې د کور نه اوباسي او Old House ته يې بوځي- که پهٔ ځوانۍ کښې د بوډا پلار ټوخيدل بد لګي، دا سوچ نهٔ کوئ چې مونږ خو د هغوئې پهٔ بستره کښې مِتيازې کولې خو هُغه وخت خو والد صاحب مونږ له لته نه ده راکړې او د کور نه خو يې نهٔ وو راويستي- چرته دا سوچ مو هم کړے دے چې والد صاحب زمونږ پهٔ ماشومتوب کښې څومره شپې پهٔ ويښه تيرې کړې دي؟ پهٔ دې ټولو خبرو باندې اِنسان هله پوهه شي چې کله هغهٔ پخپله پلار جوړ شي نو بيا هغوئې ته پته لګي چې بچے څومره تنګول کوي؟ اوس خو ډيرې اسانۍ راغلې دي، د بچو پيمپرې راغلې دي

نورې هم قِسمه قِسم اسانې راغلې دي- سوچ کول پکار دي چې 30، 40 کاله مخکښې چې کله مونږه ماشومان وو، هٰغه وخت خو به د دوئي سره پيسې هم نۀ وې، نو بيا به دوئي مونږه څنګه پاللو؟

## ماشوم او بوډا يو شان دي

دا خبره دې خاص طور ماشومان او ځوانان همیشه ياد ساتي چې د عمر يوه داسې حصه راځي پۀ کومه کښې چې د اِنسان د بوډا کيدو نه پس واپس ماشوم جوړيږي لکه چې دا پوره Circle دے- ماشومتوب، ځواني، بيا بوډا توب، بيا دا بوډا والے او ماشومتوب يو ليول لري، لکه څنګه چې ماشوم پۀ خبره باندې نۀ پوهيږي دغه شان بوډا هم پۀ خبره باندې نۀ پوهيږي- که د ماشوم د پوهې ليول کم وي نو د بوډا به هم کم شي- مونږه وايو چې بابا هم شوي او بيا هم دومره ضد کوي، وروره دا اوس د 60 کالو مۀ ګڼه بلکې دوئي د شپږو کالو ګڼه، د شپږو کالو ماشوم چې کله ضد کوي چې فلانکے څيز راکړه نو هٰغه وخت د ماشوم سره څوک جګړه کوي؟ بلکې پۀ هغۀ زړۀ خوږيږي، د پلار عمر 60 کاله دے، د هغوئي د پوهې ليول کم شوے دے، بيا پۀ هغوئي باندې هم زړۀ خوږول پکار دي- چې کله والد صاحب بيا بيا ضد کوي يا خبره نۀ مني نو هٰغه وخت پوهيدل پکار دي چې زۀ د شپږو کالو د ماشوم سره خبرې کووم- پۀ داسې کولو به د پلار خدمت هم اسان شي او د هغوئي يوه خبره به هم درباندې بده نۀ لګي- عام طور غصه پۀ دې خبره باندې راځي چې دا زما پۀ خبره باندې ولې نۀ پوهيږي؟ وروميے خو غصه راتلل نۀ ده پکار، بد نصيبه دي هٰغه خلق کوم چې پۀ دې عمر کښې هم د مور پلار سره بد تميزي کوي-

## چې څهٔ کَرې هغه به رِيبې

**منقول** دي چې يو ځوي د پلار نه ډير تنګ شو، هغهٔ خپل پلار پهٔ ګاډي کښې کښينولو او منصوبه يــې جوړه کړه چې فلانکـي نهر ته ورسيږم نو ډِيکه به ورله ورکړم- هغهٔ چې کله خپل پلار روان کړو او د هُغه نهر پل ته ورسيدو نو پلار يــې پوهه شو او اوئې وئيل: ځويه! دلته نهٔ لرې مخکښې چرته چې نهر ژور دے هلته مې وغورځوهٔ- ځوي يــې ووئيل چې دا تاسو څهٔ وايئ؟ هغهٔ ووئيل: ځکه چې ما هم خپل پلار پهٔ دې ځائے کښې غورځولے وو- نن چې څهٔ تهٔ زما سره کوې ما هم د خپل پلار سره داسې کړي وو د کومې چې ما ته بدله ميلاؤيږي- [1] پهٔ دې دُنيا کښې بدله ميلاؤيږي، کوم اولاد چې د خپل پلار ادب نهٔ کوي نو وروستو د هغهٔ اولاد هم د هغهٔ ادب نهٔ کوي- که تاسو چرته

---

[1]... جيسی کرنی ويسی بهرنی، ص ۹۰ بتغير قليل- اعلیٰ حضرت مولانا شاه امام احمد رضاخان رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه فرمائي: بے عقله، شرارت کوونکـے او ناپوهه چې کله طاقت او توانائي حاصله کړي نو پهٔ بوډا پلار باندې خپل زور ازمائي او د هغهٔ د حکم خلاف ورزي کوي، زر به پهٔ نظر راشي چې کله پخپله بوډا شي نو د خپلو کړو بدله به پهٔ خپلو لاسونو څَکي، چې څهٔ کري هغه به رِيبې او د اخرت عذاب سخت او هميشه د پاره دے- (فتاویٰ رضويه ،۴۲۴/۲۴) حضرتِ سَيِّدُنا ثابت بنانی رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه فرمائي: پهٔ يو ځائے کښې يو ځوي خپل پلار وهلو- خلقو هغهٔ ملامته کړو چې دا څهٔ کوې؟ پهٔ دې باندې پلار ووئيل: دا پريږدئ ځکه چې ما به هم پهٔ دې ځائے کښې خپل پلار وهلو، هم دا وجه ده چې زما ځوي هم ما هم پهٔ دې ځائے کښې وهي، دا د هغې بدله ده، دا مهٔ ملامته کوئ- (تنبيه الغافلين، باب حق الولد علی الوالد ، ص ۶۹)

ماشومان د خپل پلار پۀ لاسونو ښکلولو وينئ نو د هغوئي نه پوښتنه وکړئ چې تاسو به د خپل پلار ادب او احترام کولو؟، هغوئي به ضرور وائي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما د خپل پلار احترام کړے دے- ځوک چې د خپل پلار احترام کوي الله پاک د هغۀ اولاد د هغۀ فرمانبرداره جوړوي- [1] څکه د خپل پلار سره محبت کوئ، د هغۀ ادب کوئ او د خپل پلار حوصله مۀ خرابوئ! ځيني خو داسې نادانه وي کوم چې د خپل پلار سره هډو خبرې نۀ کوي او نۀ ورسره ميلاؤيږي- مور خپل ځوي زما د زړۀ د ټوټې پۀ اواز رابلي او سينې ته يې راجُختوي، د محبت نه ډک الفاظ ورته وائي، پلار اګر که پۀ واضحه او صفا الفاظو کښې دا نۀ وائي خو پۀ حقيقت کښې هغوئي هم د اولاد سره محبت کوي څکه خو د اولاد د پاره هر څۀ کوي، هغۀ يې پۀ خُله باندې نۀ وائي خو د هغۀ پۀ زړۀ کښې هم د خپل اولاد د پاره ډيره همدردي وي- کم از کم دا خو تسليم کړئ، د پلار د محبت خو چرې هغوئي له صِله ورکړئ- چرته دې ځوي هم پلار ته ووائي چې نن چې زۀ څۀ يم نو هم ستاسو پۀ وجه يم، د دې اوريدو نه پس به يقيناً چې د پلار پۀ سترګو کښې اوښکې راشي-

## پۀ حديثونو مبارکو کښې د پلار فضائل

خلق صرف د مور سره محبت کوي او د پلار سره جګړې کوي، داسې نۀ دي کول پکار، د پلار ادب او احترام هم لازمي دے- د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پلار د جنَّت مينځې دروازه ده ستا خوښه ده

---

[1]... حضورِ اکرم، نورِ مجسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: عِفُّوْا تَعِفَّ نِسَاؤُكُم وَبِرُّوْا آبَاءَكُمْ يَبَرُّكُمْ اَبْنَاؤُكُم يعنې پاکي اختيار کړئ، ستاسو زنانه به هم پاکې وي او د خپل مور پلار سره ښه سلوک کوئ، ستاسو اولاد به ستاسو سره ښه سلوک کوي-

(معجم اوسط، من اسمه محمد، ۳۷۶/۴، حديث:۶۲۹۵)

چې د دې حفاظت کوې او که پريږدې يې۔ [1] په يو بل حديثِ پاک کښې يې اِرشاد وفرمائيلو: څوي د خپل پلار حق نشي ادا کولے تر دې پورې چې څوي خپل پلار غلام بيامومي او هغۀ واخلي او ازاد يې کړي۔ [2] په يو بل ځائے کښې يې يو ډير اهم څيز ارشاد کړو چې " د رَبّ رضا د پلار په رضامندئ کښې ده او د رَبّ ناراضګي د پلار په ناراضګئ کښې ده۔ [3] په اسانو الفاظو کښې داسې ووايئ چې د چا پلار د چا نه راضي وي د هغۀ رَبّ د هغۀ نه راضي دے او د چا پلار چې ناراضه وي نو د هغۀ رَبّ د هغۀ نه ناراضه دے۔ د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څوک حاضر شو او عرض يې وکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما د ښه سلوک د ټولو نه زيات حقدار څوک دے؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: ستا مور۔ بيا يې عرض وکړو: د دې نه پس څوک؟ ارشاد يې وفرمائيلو: ستا مور۔ عرض يې وکړو: د دې نه پس څوک؟ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دريم ځل هم دا ارشاد کړو: ستا مور۔ هغۀ بيا عرض وکړو: د دې نه پس څوک؟ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ستا پلار۔ [4]

---

[1]... ترمذی، کتاب البر والصلة، باب ما جاء من الفضل فی رضا الوالدين، ۳/۳۵۹، حديث: ۱۹۰۶۔

[2]... مسلم، کتاب العتق، باب فضل عتق الوالد، ص ۶۲۴، حديث: ۳۷۹۹۔ د دې حديثِ پاک لاندې مفتي اَحمديار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: مطلب دا دے چې که څوي د پلار هر خومره خدمت وکړي خو د هغۀ حق نشي ادا کولے، د هغۀ د حق ادا کولو صرف دا صورت دے چې که څوي ازاد او مالداره وي، او پلار غلام وي نو څوي هغۀ واخلي د پاره د دې چې هغۀ پلار د هغۀ په ملکيت کښې راشي او ازاد شي۔ (مراٰۃ المناجيح، ۵/۱۸۷)

[3]... ترمذی، کتاب البر والصلة، باب ما جاء من الفضل فی رضا الوالدين، ۳/۳۶۰، حديث: ۱۹۰۷۔

[4]... بخاری، کتاب الادب، باب من احق الناس بحسن الصحبة، ۴/۹۳، حديث: ۵۹۷۱۔

د نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خُله مبارکه باندې چې کوم لفظ راځي هغه د حکمت نهٔ ډک وي- اخر حضور اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې کرته د مور پهٔ باره کښې او يو ځل د پلار پهٔ باره کښې ولې وفرمائيل؟ د دې پهٔ وجه بيانولو علمائے کرام کَثَّرَهُمُ اللهُ السَّلام فرمائيلي دي چې د مور درې اِحسانونه وي: (1): مور نهه مياشتې بچے پهٔ خِيټه کښې پالي (2): د زيږون پهٔ وخت تکليف برداشت کوي (3): د ماشوم پالنه کوي او د پلار يو اِحسان وي چې د بچي پالنه کوي-[1] د پلار اګر که يو حق او د مور درې حقونه دي خو د دې هيڅکله دا مطلب نهٔ دے چې د پلار به هډو ادب نهٔ کوې بلکې علمائے کرام کَثَّرَهُمُ اللهُ السَّلام ليکلي دي چې خدمت دې د مور ډير کوي او عزت دې د پلار ډير کوي ځکه چې هغهٔ ستاسو د مور خاؤند دے او ستاسو د مور د سر تاج دے-[2] سيدي اعلىٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي چې که د مور پلار پهٔ خپل مينځ کښې جګړه وي نو ځوي له پکار دي چې د پلار پهٔ ملاتړ کښې د مور سره او د مور پهٔ حق کښې د پلار سره جګړه نهٔ کوي- ځوي ته د چا سره هم د جګړې کولو اجازت نشته دهٔ له هلته هم د ادب نه کار اخستل لازمي دي-[3]

## پهٔ هر نظر د يو مقبول حج ثواب

ياد ساتئ چې مور پلار دواړه د احترام قابلې هستيانې دي، د دواړو ادب او احترام کوئ او هغوئي ته د محبت نه پهٔ ډک نظر ګورئ او د قبول شوي حج ثواب ګټئ- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: کوم نيک اولاد چې د خپل مور پلار طرف ته د محبت پهٔ نظر وګوري نو الله پاک به د هغهٔ د هر يو نظر پهٔ بدله د هغهٔ د پاره د يو

1...	مرأة المناجيح، ۵۱۵/۶-
2...	فتاوىٰ رضويه ، ۲۴ / ۳۹۰-۳۸۷ ملخصاً-
3...	فتاوىٰ رضويه، ۳۹۰/۲۴ ملخصاً-

قبول شوي حج ثواب وليکي- (1) د حج ثواب پهٔ کور کښې موجود دے خو د محبت والا نظر پکار دے- نن اولاد پهٔ کوږ او ویرووونکي نظر خپل مور پلار ته ګوري- (2) پهٔ داسې اولاد باندې افسوس دے د کوم سره چې د خبرې کولو نه مور پلار ویرېږي- مور چې د کوم يو ځوي سره د خبرې کولو نه ويرېږي چې که خبره ورسره کووم نو ځوي به راسره جګړه وکړي، انخلي به راسره- هٔغه لور د کومې سره چې د خبرې کولو نه مور ويرېږي، داسې ځوي او داسې لور د څهٔ کار؟ پکار خو دا وه چې کله مور پلار خبره وکړي نو پهٔ جواب کښې د لَبَّيک اواز راځي چې دا انداز مونږ ته شريعت راښائي خو اوسنے اولاد پهٔ دې خبره باندې نهٔ پوهيږي-

## د وفات شوو مور پلار د راضي کولو طريقه

ډير خلق داسې وي د چا مور پلار چې د خفګان پهٔ حالت کښې د دې دُنيا نه رخصت شي، اولاد هغوئي نهٔ راضي کوي، بيا ورسره وروستو احساس پيدا شي چې دا مونږه څهٔ وکړل- ياد ساتئ چې پلار راضي وي نو رَبّ راضي وي- که د چا مور پلار د دې دُنيا نه د خفګان پهٔ حالت کښې رخصت شوي وي نو علمائے کرامو کَثَّرَهُمُ اللهُ السَّلام ليکلي دي چې بيا اولاد له پکار دي چې د مور پلار د ايصالِ ثواب د پاره ښې ډيرې نيکئ وکړي او د هغوئي د پاره دې د بخښنې دعاګانې کوي- (3) ياد ساتئ چې نيکئ صرف پهٔ پيسو نهٔ کيږي يا صرف جومات جوړول نيکي نهٔ ده، نـمونځ کول هم نيکي ده او د قرآنِ پاک تلاوت کول هم نيکي ده- کوم

---

[1]... شعب الايمان، باب فی بر الوالدين، ۶/۱۸۶، حديث:۷۸۵۶ ۔

[2]... پهٔ حديثِ پاک کوښې دي : چا چې خپل پلار ته پهٔ برندو سترګو وکتل هغهٔ د خپل پلار سره ښه سلوک ونکړو- (تفسير در منثور، پ ۱۵، بنیَ اسرآئيل، تحت الآية: ۲۳، ۵/۲۶۰)

[3]... فتاویٰ رضويه، ۲۴/۳۹۱ ۔

اولاد چې د خپل مور پلار د بخښنې د پاره دُعا کوي نو د الله پاک د رحمت نه اُميد دے چې هغهٔ د هغوئي روحونه د هغوئي نه راضي کړي او هغوئي پهٔ فرمانبردارو کښې شامل کړي- (1)

## د مور پلار د پاره د دُعا کولو طريقه

اوس هم وخت دے، پهٔ خپل باقي پاتې ژوند کښې د خپل مور پلار د پاره دعاګانې کوئ- پهٔ قرآنِ کريم کښې الله پاک د مور پلار د پاره د دعا کولو طريقه بيان کړے شوې ده، ارشاد فرمائي: ﴿وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا﴾ (2)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: " او دُعا کوه چې اے زما ربه! تهٔ پهٔ هغوئي دواړو رحم ووفرمائي څنګه چې هغوئي دواړو زهٔ پهٔ ماشوم والي کښې ساتلے ووم-" الله پاک دې زمونږه پهٔ مور او پلار باندې رحم وکړي او د هغوئي دې جنّت نصيب کړي- (پهٔ دې موقع باندې رکنِ شوریٰ، حاجي ابو مدني، عبد الحبيب عطاري مد ظله العالي د خپل والد صاحب پهٔ ذِکر کولو وفرمائيل:) زما والد صاحب چا چې زهٔ د کوټې نه نيولے ووم او ګرځيدل يې راته ښودلي دي- يو څو ورځې بيمار وو، که دا ووئيلے شي چې د الله پاک پهٔ لاره کښې تلے وو نو دا خبره به غلطه نهٔ وي ځکه چې هغهٔ جومات ته د نمونځ د پاره تلے وو، هلته ناڅاپه راپريوتو او سر يې زخمي شو چې له وجهې يې هسپتال ته يوړے شو او بيا هغوئي کور ته روغ رانغلو- الله رَبُّ العزّت

1... نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل مور پلار يا پهٔ دې کښې د يو د قبر پهٔ هره جُمعه زيارت کوي نو هغهٔ به بخښلے کيږي او هغهٔ به پهٔ نيکئ کوونکو کښې ليکلے کيږي-
(شعب الايمان، باب فی بر الوالدين، فصل فی حفظ حق الوالدين بعد موتهما، ٦/٢٠١، حديث: ٧٩٠١)
2... پ ١٥، بنیٓ اسرآئيل: ٢۴-

دې د هغوئي درجې اوچتې کړي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- واقعي ده چې مور پلار ډيرې عظيمې هستيانې دي، الله پاک دې زمونږه د دې عظيمو هستيانو قدر رانصيب کړي- اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په رزق کښې د فراختيا نُسخه

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا چې دا خوښه وي چې د هغهٔ په عمر او رزق کښې اضافه وکړے شي نو هغهٔ له پکار دي چې **د خپل مور پلار سره ښه سلوک** وکړي او د خپلو خپلوانو سره صِله رحمي کوي-(1)

## په رزق کښې د بے برکتئ وجه

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بنده چې کله د مور پلار د پاره دُعا پريږدي نو د هغهٔ رزق قَطع شي-(2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

1... ( مسند امام احمد ، مسند انس بن مالک ، ۳ / ۵۳۰ ، حديث : ۱۳۸۱۲ )

2... ( کنز العمال، الجزء: ۱٦، ۲۰۱/۸، حديث: ۳۵۵۳۸ )

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ط اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

## د امیرِ اهلِ سنت فرمان

د مور پلار ډېر خیال ساتل پکار دي، څنګه چې هغوئ غږ وکړي، نو ټول کارونو پرېښودل او د "جي مورې، جي بابا" وئیلو سره د هغوئ خدمت ته حاضرېدل پکار دي.

(نیکی کی دعوت، ص 437)


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډئ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net